داکتر محمد ایمل ۲۰۱۸/۰٦/۱۱

# رمضان او د قدر شپه

رمضان المبارک میاشت د بخښني، رحمت او له جهنم څخه د خلاصون میاشت ده. دا میاشت د شیطانانو د تړلو، د دوزخ د دروازو د تړلو او د جنت د دروازو د پرانستلو میاشت ده، دا میاشت د الله تعالی د رحمتونو، احساناتو او ورکړو میاشت ده. دا میاشت د طاعت، عبادت او د الله جل جلاله د بندګی میاشت ده، دا میاشت د خوشحالی، نیکبختی او سعادت میاشت ده. نو ددې میاشتي عبادت له دغو ټولو ښیګڼو څخه ډک دی او هر هغه څوک چې په دې میاشت کې روژې ونیسي او د شپې عبادت وکړي، نو هغوی په ربښتیا هم ډیره ګټه وکړه.

د رمضان د مبارکې میاشتي فضایل خورا زیات دي تر ټولو زیات بیا د قدر شپه ده لکه نوم یی چې قدر دي همداسي قدرمنه او د رحمتو ډکه ده ولې ورته د قدر شپه ویل شوي؟ چې په اختصار سره به بیان شي!

په دغه شپه کې قرآنکریم د لوح محفوظ څخه اول آسمان ته نازل شوي دي...۱

ددې شپې عبادت د زرو شپو عبادت څخه زیات دی، نو دا شپه قدرمنده ده.۲

په دغه شپه د انسانانو ټول اعمال، رزق، خیر او شر اندازه ټاکل کیږي.۳

په دې شپه لږ عبادت ډېر قدر او شرف لري.٤

سوال: د قدر شپه کومه یوه ده؟

ځواب

د روژې د اخري لسو شپو طاق شپې ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹ په دغو شپو کې د قدر شپه ده

ما رُوي في تحري ليلة القدر من حديث عائشة أم المؤمنين -رضي الله عنها- قالت: (تَحَرَّوْا ليلةَ القدرِ في الوِتْرِ، من العشرِ الأواخرِ من رمضانَ

رواه البخاري، في صحيح البخاري، عن عائشة أم المؤمنين، الصفحة أو الرقم: ۲۰۱۷

سوال: د قدر په شپه کې کومه دعاء کیږي؟

ځواب:

هغه دعاء چې رسول الله (ص) کړیده هغه داده

اللهم إنك عفوٌ كريم تحب العفو فاعفو عني

رواه الترمذي، في سنن الترمذي، عن عائشة أم المؤمنين، الصفحة أو الرقم: ۳۵۱۳

نورې شرعي دعاوې هم مشکل نلري، ذکرونه، نفلونه، تلاوت هر څه جائز دي

ما روي عن عائشة أم المؤمنين - رضي الله عنها - في فضل الدعاء ليلة القدر؛ حيثُ روي في الصحيح أنّها قالت: (يا رسولَ اللهِ أرأيتَ إن وافقتُ ليلةَ القدرِ ما أدعو؟ قالَ: تقولينَ اللَّهمَّ إنَّكَ عفوٌّ تحبُّ العفوَ فاعفُ عنِّي

رواه البخاري، في صحيح البخاري، عن عائشة أم المؤمنين، الصفحة أو الرقم: ۲۰۲٦.

سوال: د قدر د شپې علامې او نښانې کومې دي؟

ځواب:

د قدر د شپې علامې او نښانې

په دغه شپه به شیطانان په ستورو نه ویشتل کیږي. ځکه ملائکې را کښته کیږي، شیطانان به نه وي

په دغه شپه به هوا نه یخه وي او نه ګرمه، بلکې معتدله به وي

په دغه شپه به نه وریځ وي ، نه به باران وي او نه به باد وي

ددغې شپې په سهار به لمر لکه د څوارلسم سپوږمی سپین به وي او شعاوې به نلري چې راخیږي

ددغې شپې په سهار به د اسمان په کنګرو کې ګردجن غبار وي، دا ځکه هغه ملائکې چې را کښته شوي وي، د هغو د پورته کیدو له کبله دغه غبار وي

دغه شپه به ډیره روښانه وي

لقول الرّسول عليه السّلام: (ليلةُ القدرِ ليلةٌ سمِحَةٌ، طَلِقَةٌ، لا حارَّةٌ ولا بارِدَةٌ) رواه الألباني، في صحيح الجامع، عن عبدالله بن عبّاس، الصفحة أو الرقم: ۵۴۷۵



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

رواه ابن حبان، في صحيح ابن حبان، عن أبو سعيد الخدري، الصفحة أو الرقم: ۳۶۷۴
رواه مسلم، في صحيح مسلم، عن أُبيِّ بن كعب، الصفحة أو الرقم: ۷۶۲.

رواه الألباني، في صحيح الجامع، عن واثلة بن الأسقع و عبادة بن الصامت، الصفحة أو الرقم: ۵۴۷۲
په قرانکریم کې د قدر په سورت کې له هغې لويې اوبا عظمته شپې څخه يادونه شوی، چې ټولو کايناتو ئې په خوښيې، عبادت او دعا هرکلئ کړی، هغه شپه د کايناتو د خالق او د ځمکې پرمخ د بشريت ترمنځ د وصال شپه وه ، هغه د رسول الله صلی عليه وسلم پر سپيڅلی زړه باندې د قران د نزول شپه وه، هغه د يوې لويې او با عظمته پيښې شپه وه، هغه پيښه چې د حقايقو لوری ته د بشريت په لارښونه او رهنمايي کې يې غوڅ اثر درلود او د انسانيت په ژوندانه کې د هغې مبارکې شپې ژوره او پريکنده اغيز ساری نه لري. دا راز باعظمته او لويه شپه تر دې وړاندې ځمکې نه وه ليدلې. دا هغه شپه ده چې انسانی فهم او ادراک ئې په بشپړه اوکامله توګه نه شي درک کولای.(إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ) ژباړه: يقينا موږ هغه د قدر په شپه کې نازل کړی دی! او ته څه پوهيږي چې څه ده شپه دقدر، شپه د قدر غوره ده تر زرو مياشتو.
د قرانکريم په مبارکو آياتونو کې دا شپه داسې انځورشوې :

دا هغه شپه ده چې د نور وړانګې پکې هر لوری ته غوړيدلې وې، پدې باعظمته شپه کې د الله تعالی د لطف، محبت او رحمت نه ډک ربا په ټولو کايناتو کې خور ؤ، دا نور په قرانکريم کې نغښتی تول بشريت ته لاره روښانه کوي، (انا انزلناه فی ليلة القدر) ژباړه: "يقينا موږ هغه د قدر په شپه کې نازل کړی".
پدې شپه کې د ځمکې او آسمان په منځ کې ملائيکې تک راتک کوي (تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ) ژباړه : پدې شپه کې د الله تعالی په حکم او امر د الله تعالی هر امر ملائيکې او جبريل الامين ځمکې ته راوړي، پدې شپه کې جبريل الامين د نورو ملائيکو سره ځکمې ته رانازليږی تر څو د ځمکې خلک د دې شپې له فيض اوبرکت نه برخمن کړي ، پدې شپه کې د ملائيکو او جبريل الامين د نور سره هغه نور چې په ټولو کايناتو کې غوړيدلی وي يوځای هرلوری ته خور وي، او دا نور او روښنايي تر سپيده دم پوری جاري وي ،( سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ) ژباړه: سر تر پای سلامتي او امان دی ! د سپيدو تر را ختو پوری.
دا شپه چې د قدرپه سورت کې ورڅخه يادونه شوې وه په سورت دخان کې داسې انځور شوې:
(إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِين o فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ o أَمْرًا مِّنْ عِندِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ oرَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيم(ژباړه: " يقينا موږ هغه د فيض اوبرکت نه په ډکه شپه کې نازل کړی، او موږ خبرداری ورکړی خلکو ته په نازلولو د دې قرآن، په دې شپه کې ټول هغه حکيمانه او قاطع فيصلې زموږ په امر تر سره شوې، بيشکه موږ راليږی دي رسولان د سلام عليهم السلام اجمعين، دا دې ستا د رب د رحمت پراساس شوی، بيشکه هغه هر څه اوري، اوپه هر څه عالم او دانا دی. "
ټول پوهيږی چې د قدر شپه د روژې د مبارکو شپو څخه يوه مبارکه شپه ده، څرنګه چې د البقره په سورت کې يادونه شوې ده (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ) ژباړه:" د روژې مياشت هغه مياشت ده چې نازل شوی پکې قرانکريم، چې هدايت او لارښونه ده لپاره دخلکو، دليلونه او احکامات دي ښکاره د لارښونه لپاره او د حق اوباطل تر منځ د توپيرلپاره ". يعني پدې شپه کې پررسول الله (ص) باندې د قران نزول پيل شوی دی، ترڅو هغه خلکو ته ورسوي.
د ابن اسحاق د روايت پر بنسټ پررسول الله (ص) باندې د روژې په مبارکه مياشت کې تر ټولو وړاندې لومړی د سورت علق د ابتدايي څو آياتونو وحي نازله شوې ده، کوم مهال چې دی مبارک د حرا په غار کې د عبادت لپاره خلوت اختيار کړی و.
دا کومه شپه ده ؟:
په دې اړه متعدد روايتونه موجود دی، د ځينو روايتونو پر بنسټ د روژې ۲۷ د قدر شپه بلل شوی ده، اوپه ځينو کې ۲۱ ته اشاره شوی ده، اوځينو نورو روايتونو هغه د روژې په آخر لسو شپو کې ټاکلی ده، او داسې نور روايتونه هم شته چې دټولې مبارکې مياشتې د شپوڅخه په يوه شپه دلالت کوي ، په هر حال تر ټولو راجح قول دا دی چې دا شپه د روژې د مبارکوشپوڅخه يوه شپه ده.
د دې شپې نوم ولې د قدر شپه دی؟:
يو مفهوم ئې د بندګانو د تقديرټاکل او د چارو د تدبير څخه مراد دی، اوبل مفهوم ئې منزلت، مقام او ارزښت دی، دواړه مفهومونه د دې پيښې د عظمت (قرآن، وحی او رسالت) اړوند سم دي، د بندګانو د تقدير اوتدبير د ټاکلو اړوند د دې شپې تر پيښې بله لويه پيښه کايناتو نه ده ليدلې او نه به ئې ووينې.
دقدر شپه تر زرو مياشتو غوره ده :
په قرانکريم کې د دې شپې نه يادونه پدې منظور نه ده چې د شميرې ډيرښت ورنه مراد وې، بلکه د دې شپې د عبادت د اجر او ثواب ډيرښت مراد دی . د انسانانو په ژوندانه کې دا شپه تر زرهاوو شپو بهتره ده، د انسانانو په ژوندانه کې په زرهاو شپې او کالونه د دې شپې د سعادت اوسوکالې په مقابله کې د پرتلې وړ ندي، پدې شپه کې د بشريت په ژوندانه کې د نيکمرغی او سعادت اړوند ژور اثر او تحول را منځ ته شوی دی، د دې شپې د حقيقي عظمت او لويې له پوره درکولو څخه انسانی عقل عاجز دی،(وما ادراك ما ليلة القدر) ته څه پوهيږی چې څه ده شپه د قدر؟
د دې شپې اړوند هغه افسانوي داستانونه چې په خلکو کې تيت او رواج شوي دي ، د دې شپې د عظمت سره هيڅ راز تړاو نه لري . دا شپه د دې لپاره ډيره برکتناکه او دعظمت نه ډکه ده چې د قرآن کريم د وحي د نزول لپاره غوره شوې ده ، هغه قرآن

چې پکې عقیده ،فکر، قانون او د انسانانو د ژوندانه لپاره احکامات ، اصول او آداب راغلي دي، هغه قرآن چې د انسانی وجدان سلامتي پرې پورې تړلی ده. او دا شپه د دې لپاره برکتناکه او دعظمت نه ډکه ده چې پدې شپه کې جبریل الامین د نورو ملائیکو سره د الله تعالی په امر د قران سره را نازل شوی دي، او بیا ملائیکو د دې شپې د لمانځلو لپاره او د خوشحالۍ د څرګندولو لپاره د ځمکې او آسمان ترمنځ ټوله شپه تګ راتګ کاوه .

نن چې موږ وروسته لدې اوږدې مودې څخه هغه شپه او لویه پیښه په خپل ذهن کې انځوروو، اوهڅه کوو د هغې لویې پیښې انځور چې ځمکه ئې شاهده وه په خپل ذهن کې انځور کړو، اوکله چې قرانکریم په خپل بلیغ او لوړ تعبیرهغې شپې ته اشاره کوی، (ما ادراك ما لیلة القدر) ته څه پوهیږې چې څه ده شپه د قدر؟، لږ څه دا لویه پیښه درکولای شوو. پدې شپه کې د ټولو حکیمانه چارو اړوند فیصله وشوه، بدې شپه کې تقدیرونه، بنیادونه او پیمانې وټاکل شول ، بدې شپه کې برسیره په دې د ملتونو، نسلونو او حکومتونو تقدیرونه وټاکل شول، او برعلاوه د دې په دې شپه کې د زړونو تقدیرونه وټاکل شول.

بشریت د خپل جهالت اوبدبختۍ پربنسټ د دې شپې دعظمت نه چې د قرآن کریم وحې پکې نازله شوی غافل دی، او د دې جهالت پر اساس د الله تعالی له ډېرو نعمتونو اوبرکتونو څخه محروم دی، د زړه د سلامتۍ له نعمت نه ، د کورنۍ د سلامتۍ له نعمت نه، او په پای کې د ټولنې د سلامتۍ له نعمت نه چې اسلام خلکوته په ارمغان راوړی دی. هغه دروازې چې د مادیت د ارتقا او د ماده پرستانو د تمدن او تهذیب له کبله د بشریت پر مخ خلاصې شوی دی نه شی کولای د هغه الهی نعمتونو جوګه شي، چې الله تعال بشریت ته غوره کړی دي ، د مادی پرمختګ او علمی لاسته راوړنو سره سره نن بشریت د بدبختۍ او بدمرغۍ ښکار دی.

هغه مقدس اوسپیڅلی نور چې کله د انسان په روح کې وغوړیږی د انسان او الله تعالی رابطه برقراروي، هغه نورنن په بشریت کې مړ شوی دی، او هغه فیض او برکت چې باید په زړونو کې ځای پرځای شي، خلکو له لاسه ورکړی، د روح نیکمرغي او سعادت پرته له هغه نور څخه چې د انسان او الله تعالی رابطه ټینګوی په بل شي کې شونی نه دي . موږ د ایمان او عقیدې خاوندان باید هغه د عظمت او برکت نه ډکه شپه هیره نه کړو، زموږ سپیڅلی او ګران رسول (ص) د هغې برکتناکه او دعظمت نه ډکې شپې یادول موږ ته په ساده او داسې ډول ښولي دي، تر څو زموږ ارواحګانې د هغې مبارکې شپې په عظمت پوری تړلې وي نو موږ باید هغه شپه د رسول الله (ص) د کړنلارې مطابق ولمانځو او هغه د روژې د مبارکې میاشتې په آخرو لسو شپو کې وپلټوو، اوپدې شپو کې د الله تعالی عبادت ډېر کړو. په بخاری او مسلم کې روایت راغلي چې د قدر شپه د روژې په آخرو لسو شپوو کې وپلټئ، رسول الله (ص) فرمایلی دي: څوک چې د قدر په شپه کې د الله تعالی عبادت د ایمان او احتساب سره پرځای کړي، تیرې ګناوې ئې ښنل کیږي.

اسلام ظاهری دودونو اورواجونو نه دی، په همدې منظور رسول الله (ص) دقدر دشپې اړوند فرمایلی دي: پدې شپه کې عبادت باید د ایمان او احتساب سره پرځآی شي، ایمان دا دی چې موږد قدر د شپې اړوند هغه ارزښتناکه او دعظمت نه ډک ارزښتونه په خپل ذهن کې ولرو، چې عبارت دي له دین، ٍوحې، رسالت او قرآن څخه. او احتساب دا دی چې موږ خپل عبادت یوازی د الله تعالی درضا لپاره په خالص نیت سره تر سره کوو. په دې صورت کې هغه حقیقت چې په دې باعظمته پیښې پوری تړلی دی زموږ په زړه کې ژوندی کیدلای شي، همدارنګه په قرانی احکامو پوری زموږ تړاو او تعلق حاصلیدلای شي .

د اسلام روزنېز نظام دنده لري، چې د عباداتو او وجدانی عقایدو تر منځ رابطه پیدا کړي، او ایمانی ارزښتونه ژوندی وساتي. هر کله چې ایمانی ارزښتونه د انسان د فکرپه کړی کې ژور شي او په زړه او دماغ کې ځای پرځای شي نوبیا عبادت د یوې وسیلې په توګه د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره انسان استعمالوي. دا خبره ثابته شوی ده چې د اسلام ښوونیز نظام ایمانی ارزښتونه ژوندی ساتلی دی، اودا ارزښتونه یې د انسان په عمل او زړه کې په خوځښت راوستي، د داسې دندې لپاره دا تر ټولو موزون ترین نظام دي. او دا خبره هم ثابته شوې ده چې یوازې په علمي ډول پرته له عمل او عبادت نه د دغو ارزښتونو منل ،دا ارزښتونه ژوندي نه شي ساتلی، یعنی دا ارزښتونه باید په عملي ژوندانه کې را څرګند شي، اونه هم کوم بل نظام پرته له اسلامی نظام نه پدې قادر دی چې دغه ارزښتونه په وګړی او ټولنه کې ژوندي وساتي، او قوت ورکړي.

د قدر د شپې عظمت، لویي او عبادت په دې شپه کې د ایمان او احتساب سره پرته لدې اسلامی نظام نه چې د بشریت په تاریخ کې بشپړترین نظام پیژندل شوی بل نظام نه شي پرځای کولای.

پای